۲۴ جولای 2020

# ژمنی ګډه ستراتیژي

افغانستان

## د مطالبو نوملړ


1 اجرائي لنډيز 4

2 د افغانستان ګډه ژمنې ستراتيژي ........ 5

د ستراتيژۍ اهداف 5

د ستراتيژۍ د پراختيا فرضيې او خطرونه ........ 6

کمزري سرپناه/د غېرخوارکي توکو شرطونه ........ Error! Bookmark not defined.

د COVID-19 اغېز ........ 6

کمزورى روغتيايي سيستم ........ 6

بې ځايه شوي خلک ........ 7

په زده کړه کې ځنډ او د ماشومانو د روغتيا اړوند اندېښنې ........ 7

چاپيريالېزه روغتيا ........ 8

نفوسي ګروپونه ........ 8

3 د کلسترونو ترمنځ پلانګذاري ........ 9

د اړتيا ارزونه ........ 9

د سرچينو نقشه کول ........ 12

د سرچينو ټاکلو د نشتوالي لنډيز 12

د کلستر لومړيتوب ورکول ........ 14

د کلستري مرستو حالتونه ........ Error! Bookmark not defined.

د غېرکون/ځواب ويلو معياري کځورې/بستې ........ 15

بېړنى سرپناه او غېر خوراکي توکي ........ 16

غذايي خونديتوب او کرهنه ........ 19

روغتيا ........ 21

تغذيه ........ 22

ساتنه/خونديتوب ........ 23

اوبه، فاضلاب او حفظ الصحه ( WASH ) ........ 24

4 د ژمني ستراتيژۍ د پراختيا کړنلاره 26

4.1 د همغږۍ پروسه ........ 26

4.2 زماني جدولونه ........ 27
4.3 په نښه کولو، ګواښ او د ګټه اخیستونکو نهايي کولو ستونزې ........ 27
4.3.1 د ګټه اخیستونکو ټاکنه ........ 27
4.3.2 په نښه کول ........ 28
4.3.3 ځواب/غبرګون ........ 28
4.4 څارنه ........ 28
4.5 راپور ورکول ........ 29
5 نتیجه ګیري / پایله ........ 29

## د شکلونو نوملړ

١ شکل؛ د سرچینو د نقشه کولو لنډیز ........ 18
٢ شکل؛ د کورنیو ژمني لومړیتوبونه ٢٠٢٠ ........ **Error! Bookmark not defined.**
٣ شکل؛ د افغانستان لپاره د واورې او باران اوسط کلني او میاشتني اورښت کچه ........ 18
۴ شکل؛ لومړیتوب ورکړل شوي ولایتونه ........ **Error! Bookmark not defined.**
۵ شکل؛ د سرچینو نقشه کول ........ **Error! Bookmark not defined.**
۶ شکل؛ کلیستر ته رسیدنه او د مالي ملاتړ ویش ........ 18
٧ شکل؛ د غذايي خوندیتوب او کرهنیز کلستر، روغتیا او عاجلې سرپناه/غېر خوراکي توکو د مالي ملاتړ/فنډ تشه ........ 18
٨ شکل؛ تغذیه، ساتنه او د اوبو، فاضلاب او حفظ الصحې ( WASH ) لپاره مالي ملاتړ نشتوالی ........ 18
٩ شکل؛ په بېړنو حالاتو کې د زدکړې کاري ګروپونو لپاره د مالي ملاتړ/فنډ تشه ........ **Error! Bookmark not defined.**
١٠ شکل؛ د معیاري غېرګون بستې/کڅوړې ........ **Error! Bookmark not defined.**

## د ګڼې شمېره

| ګڼه | نېټه | رامنځ ته شوي بدلونونه |
|---|---|---|
| 01 | 24.07.2020 | N/A |
| 02 | 12.10.2020 | خلاصه شوې ګڼه |

## 1 اجرائي لنډیز

د پرلپسې جنګونو او طبعي افتونو په نتیجه کې رامنځ ته شوی څلوېښت کلن دوامداره بحران ؛ افغانستان په نړیواله کچه له ستر بشري ناورین سره مخ کړی. دې ګذارونو او خنډونو د بې ځایه شویو، مېشتو او طبیعي ناورینونو له امله اغېزمن شویو خلکو توان او مقاومت له منځه وړی. آن تر دې چې په عادي شرایطو کې هم د کورنیو لپاره د خپلو لومړیو اړتیاوو پوره کول ستونزمن شوي. په افغانستان کې د سخت ژمي له راتګ سره چې د تودوخې درجه تر منفي ۱۲ درجو هم ښکته درومي، دا ګواښونه نور هم ډېرېږي.

د ژمي سړه او سخته هوا هر کال د ژوند ژغورونکو ژمنیو مرستو اړتیا زیاتوي، په ځانګړې توګه په هغه سیمو کې چې د بحر د سطحې په نسبت لوړو ارتفاعاتو کې موقعیت لري: د بېلګې په ډول بامیان، غزني،نورستان،وردک او پکتیا، ځکه نو په داسې سختو شرایطو کې سرپناه نشي کولای خلک د سوړ ژمي له خطرونو خوندي وساتي. ډېری زیانمن شوي خلک نشي کولای چې د خپلې کورنۍ او ځان تودولو په خاطر د سون توکي او بخارۍ ویېرې او نه هم د خپل ځان او خپلې کورنۍ د تودوخې اړتیا د پوره کولو وس لري.

د ژمي موسم د تنفسي ناروغیو د زیاتوالي او خپرېدا سبب کېږي. د تېر (2018-2015) کلونو رحجانات په ګوته کوي چې په نومبر او فیبرورۍ میاشتو کې 43٪ تنفسي ناروغۍ او په روغتونوو کې د هایپوترمیا ناروغانو له امله بستري کیدنه د ټول کال په نسبت زیاته وي. سربېره پردې، په ماشومانو کې د تنفسي ناروغیو له امله د مړیني کچه هم په ژمي کې نسبتاً پورته کېږي. همدارنګه، په ژمي موسم کې د هېواد په اکثرو سیمو کې لویې لارې تړلې وي، دا چاره په هغو سمیو کې چې د لارو د بندښت له امله ورته لاسرسی ناشوني وي، په خپل وخت او اغېزمنه توګه د ژوند ژغورونکو طبي وسایلو لېږد محدود او له ځند سره مخامخ کوي. په افغانستان کې ژمی هغه موسم دی چې لوږه یا فقر په کې لوړې کچې ته رسېږي، دا ځکه چې په دې موسم کې د خوراکي توکو د تولید او عاید لاسته راوړلو فرصتونه ډېر کم وي. د COVID-19 ناروغۍ خپرېدا هم د افغانستان د وګړو د ژوند ټولې برخې اغېزمنې کړې او په اکثرو حالاتو کې شته بشري او پرمختیایي اړتیاوو کچه نوره هم پورته کوي. کیدای شي په 2020 کال کې ښوونیز کال هم ژمي ته وغزېږي، ترڅو هغه زده کوونکي چې د زده کړو بهیر یې د COVID-19 قرنطین له امله ځنډول شوی و، وکولای شي ژمي ته د ښوونیز کال غزولو له لارې خپلې زده کړې بشپړې کړي. ژمي موسم ته د ښوونیز کال غزول به دا مانا لري چې په ښوونځیو کې د ماشومانو ګرم ساتلو لپاره اظافي سرچینو ته اړتیا ده.

د 2020-2019 کلونو لپاره د ژمني تیاري ارزونه د ژمنیو مرستو د ځینو اوږدمهاله اغېزو او د ژمي په دوران کې د کورنیو د ټولیز مقاومت نشتوالي وړاندوینه کړې ده. د 2020 کال لپاره د COVID-19 وبا مخنیوی او غبرګون په ټولو کلسترونو او سکتوري کړنلارو لپاره په نظر کې نیول شوی دی، چې ژمني غبرګونونه، د لومړیتوب ورکولو په موخه د بیاځلې ارزونې اړتیا ایجاب، او د کوربه ټولنو د نفوسي ګروپونو رانغاړل هم په کې شاملېږي. ستراتیژي د کلستریزو میکانیزمونو ترمنځ د ښې همغږۍ په موخه د قوي ژمنې غوښتنه کوي، ترڅو داسې متحد غبرګون په اړه ډاډ ترلاسه شي چې اغېزمن وګړي وکولای شي د ژمي اړوند خپلې اړتیاوې او ګواښونه په ګوته کړي. همدارنګه دا ژمنۍ ستراتیژي له مرسته کوونکو/ډونرانو سره، او په ملي او ولایتي کچه د حکومتي ادارو/چارواکو او اړوند وزارتونو سره چې د پېښو پروړاندې د ځواب ویلو مسئولیت لري، له دې امله د همغږۍ او مشورې غوښتنه کوي چې د ستراتیژیکو لومړیتوبونو له تعریف سره سم د مالي ملاتړ/ فنډ د تخصیص برنامې د ژمي موسم له امله اغېزمن کیدلای شي.

ژمنی پلان په اصل کې د بېلا بېلو کلسترونو ګډه هڅه ده چې موخه يې  د سرپناه، خوراکي توکو ، تغذيې، پوهنې، حقوقي ساتنې، روغتيا او حفظ الصحې په برخه کې په تولیزه توګه د خلکو اړتیاوو ته پاملرنه ده او په دې اړه د ډاډ تر لاسه کول دي چې د پام وړ وګړي په ښه توګه له سړې هوا وساتل شي او ځان د یخ ژمي له موسم سره سم عیار کړي. په دې پلان کې ځيني پخواني فعالیتونه هم شامل دي چې په پخوانیو ژمنو ستراتژیو کې لومړیتوب ورکړ شوی چې اوس يا پراخه شوي او يا نويو برخو ته غزول شوي دي. ځيني بيا دCovid 19  له امله بشپړ نوي او اړین فعالیتونه دي. د يادونې وړ ده چې  دا طرحه يوازې د ژمي موسم لپاره ده او يو پابډونکی یا ژوندی سند دی چې وضعيت ته په کتو سره بايد په کې تغيرات راشي.

د ۴.۸ میلونه وګړو له جملې به شاوخوا **۲.۵** اړمن وګړي (د هغو خلکو په ګډون چې د COVID-19 له امله زیانمن شوي او اړتياوې يې پورته شوي) د هغو سکتوري فعالیتنو له لارې تر پوښښ لاندې راشي چې په دې پلان کې خلاصه شوي دي. د ستراتېژۍ د اټکل له مخې د هغو فعالیتونو د تنظیم او ترسره کولو لپاره **۱۳۶.۹ میلیونه ډالره** بودجه په کار دي  چې د خلکو د ژوند ژغورنې په برخه کې مرسته کوي او د خونديتوب په ختمولو یا کمولو کې مرسته کوي (په خاص ډول ډېر عمر لرونکي وګړي، ماشومان او مېرمنې ) او همدا راز په هغه ولایتونو کې چې لومړیتوب ورکړل شوی، د شدیدې یخنۍ سره تړلې قضيې په ګوته کوي.او ددې بودجې وخت څلور میاشتې دی یعني له نومبر ۲۰۲۰ تر فبروری ۲۰۲۱ پورې

دا پلان به له  OCHA يا د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ ادارې سره یو ځای او د ټولو اړونده کلسترونو له لارښوونې سره سم د افغان دولت په خاصه توګه د کډوالو چارو وزارت او له طبعي پېښو سره د مبارزې ادارې په مرسته او هڅو  تطبیق کیږي .
د 2020/21 کلونو ژمنۍ ستراتيژي د COVID-19 پراخه اغېزې په پام کې نيسي. کېدای شي چې وضعیت د ځينو فکتورونو له امله تکرار شي، په دغه فکتورونو کې د COVID-19 د پېښو په شمېر کې زیاتوالی، د وبا پر وړاندې د سیمه ییز او نړیوال غبرګون اغېزې او د COVID-19 د خپرېدو له امله اقتصادي رکود شامليږي.

## د ستراتيژۍ اهداف

i. د ژمنیو مرستو د پر وخت وېش له لیارې په هغم سیمو کې د ژوند ژغورل چې د اړتیا کچه په کې لوړه ده.

ii. د بېړنی رغېدنې لپاره او د ټاکل شوي ژمنیو مرستو پرمټ د سکتوري فعالیتونو ملاتړ، لکه خواړه، تغذیه، اوبه، فاضلاب او حفظ اصحه (WASH)، خوندیتوب، بېړنی سرپنا او غېر خوراکي توکي، روغتیا او زده کړه.

iii. ډاډ ترلاسه کول چې د ژمي موسم او پخوانیو عواملو(لکه سیلابونه، وچکالي، روانه جګړه او د  COVID-19 وبا خپرېدنه) د ترکیب له امله رامنځته شوي د خوندیتوب اندېښنې کمې یا په نښه شي.

## د ستراتیژی د پراختیا فرضیې او خطرونه

### کمزورې سرپنا او د غیر خوراکي توکو وضعیت

اغېزمنو وګړو سرپناه تر خورو وروسته خپله دویمه ستره اړتیا په ګوته کړېده. ( ۷۷٪ خلکو خوراکي توکي او ۷۲٪ بې سرپنا خپلې شدیدې اړتیاوې ګڼلي دي). سربېره پر دې، د هغو خلکو له ډلې چې تر شپږو میاشتو زیات بې ځایه شوي، یو پر دریمه برخه یې ( **۱.۳۶ میلیونه**) اوس هم په داسې موقتي سرپناه یا خیمو او کمزوري انتقالي سرپناوو کې ژوند کوي چې سرپناه په خراب وضعیت کې ده، خدمتونو ته محدود لاسرسی لري، د شدیدې یخنې پر وړاندې کمزورې سرپناه لري او یا هم د افغانستان په سوړ ژمي کې په نهایت خراب وضعیت کې ژوند کوي.

کورنۍ د ژمي په موسم کې د یو شان لومړیتوبونو خبر ورکوي؛ ۵۷٪ خلکو په فردي توګه د عاجلې سرپناه د عمومي وضعیت بهبود ، ۳۱٪ خلکو د خونو د پخولو د خپلو عمده ستونزه په توګه په ګوته کړي دي. د سرپناه د ترمیم اړتیا ۵٪، د کور کرائې مرسته ۳٪ او نور لومړیتوبونه ۴٪ په ګوته شوي دي. د ژمي په موسم کې غیر خوراکي توکو ته په شدیدو اړتیاوو کې په ترتیب سره ۸۶٪ تېل یا د سوند موادو، ۵۷٪ د کمبلو او ۴۳٪ ژمنیو پوښاکونو اړتیا شاملیږي.

په ۲۰۱۹ کال کې تر ۳۱٪ ډېرو کورنیو ویلي چې د خپلې کورنۍ د سون اړتیاوې له فاضله توکو (کاغذ، پلاستیک، کارتن او نورو) څخه پوره کوي. ۲۳٪ خلکو ویلي چې د تېلو/سوند مواد پېرلو لپاره یې پیسې په پور اخیستې دي او په ترتیب سره ۱۹٪ **او** ۱۱٪ کورنیو د سوند لرکو د راټولولو او خپلو غذایي اړتیاوو د پوره کولو لپاره اولادونه له کوره بهر استولي دي، څو وکولای شي د سوند موادو او خوړو په مصرف کې سپما وکړي.

د بېړنۍ سرپناه/غېر خوراکي توکو د کلستر له لوري درې ډوله ژمني فعالیتونه په نظر کې نیول شوي دي: ۱. د جامدو سوند توکو او تودوونکو وسایلو ویش؛ ۲. فردي خوندیتوب/ساتنه (د ژمنیو لباسونو او کمبلو ویش) او ۳. د سرپناه خوندیتوب. یاد فعالیتونه د ساړه ژمي لپاره د غوره تیاري د اغېزمنو فعالیتونو په توګه تائید شوي دي.

### د COVID-19 اغېز

په افغانستان کې د COVID-19 وبا د خلکو د ژوند ټولې برخې اغېزمنې کړې دي. دا په داسې حال کې ده چې اټکل کیږي روان ژمی به موجوده بشري اړتیاوو کچه لوړه نور هم کړي. تر ۸۰٪ پورته کارکوونکي په غېر رسمي کارونو (غېر رسمي اقتصاد) کې بوخت دي، غېر خوندي، بې ثباته او نا مناسب عاید نور هم دوي په خطر کې اچوي.

ډېره اړینه ده چې ټولو اړمنو خلکو ته له تبعیض پرته، اړتیاوو ته په کتو، بې پرې او منصفانه مرستې ترسره شي. د نفوسو ګروپونو ته د ژمنیو مرستو د ویش بدیل اقدامات باید تر لاس لاندې ونیول شي (لکه د جمعي را ټولېدنې بدیل مرکزونه).

ددې لپاره چې ډاډه شو په هیواد کې د بشري فعالیتونو دوام لپاره د بشري مرستو دهلېزونه رامنځته شوي، د همکارانو ګډون او ښکېلتیا ډېره اړینه ده. مېرمنو، ماشومانو، سپین روبو، هغو کورنیو ته چې سرپرستي یې ماشومان او مېرمنې کوي، او هغه نجونې، نارینه او هلکان چې د معلولیت لرونکي دي، باید تر ځانګړې پاملرنې لاندې ونیول شي او په دوامداره توګه ترې ساتنه وشي.

### کمزوری روغتیایي سیستم

د افغانستان نا پرمختللی روغتیایي سیستم په کمزورې بنه د هېواد ځینو برخو ته غزول شوی دی. د ټول نفوس شاوخوا ۳۰٪ اساسي روغتیایي خدمتونو ته د خپلو اوسېدو له ځایه د ۲ ساعتونه مزل تر کولو وروسته رسیدلای شي. کمزوری روغتیایي سیستم اوس د covid-19 وبا، او د پخوانیو سترو بدو پېښو د تلفاتو له امله رامنځته شوو اړتیاوو، او د ساري ناروغیو د بیاځلي خپرېدو له امله (په ځانګړې توګه د داخلي بې ځایه

شوو په منځ کې) دغه کمزوری روغتیايي سیستم نور هم اغېزمن او تر فشار لاندې راغلی دی. د covid-19 وبا د یوې بلې څپې د خپرېدو شونتیا او د کمزوری مقاومتي سیستم له امله په ژمي موسم کې با کیفیته روغتیايي خدمتونو ته لاسرسی یوه حیاتي موضوع ګڼل کېږي.

## بې ځایه شوي خلک

داسې اټکل کېږي چې له ۲۰۱۲ کال وروسته ۴ میلیونه خلک بې ځایه شوي او دا شمېر به تر ۲۰۲۰ کاله پورې په خپل حال (بې ځایه شوي) پاتې شي. بې ځایه شوې کورنۍ ډېری په داسې سیمو کې ژوند کوي چې کڼ میشتي وي او د څکلو صحي اوبو او فاضل آب خدمتونو ته په سمه او بشپړه توګه لاسرسی نه لري. ددغو خطرونو کچه هغه مهال لا پورته کېږي چې د ژمي په سختو شرایطو کې د شته اړتیاوو سربېره د بې ځایه شوو کورنیو په جمعي سیمو کې نور ګواښونه او فشارونه (لکه د خوړو، سوند توکو، ژمنیو پوښاکونو او کمبلو اړتیا) هم پیدا کېږي او بې ځایه شوې کورنۍ او خلک نشي کولای چې روغتیايي خدمتونو، د څکلو پاکو اوبو او د حفظ الصحې وسایلو ته لاسرسي ولري.

## په زده کړه کې ځنډ او د ماشومانو د روغتیا او سلامتۍ اندېښنې

د ۲۰۱۹ کال د مارچ میاشتې له 14 نېټې ښوونځیو ته لاربښوونه شوې وه چې نباید پرانیستل شي. په داسې یو هبواد کې چې چې ۳۷۰۰۰۰۰ (درې میلیونه اووه سوه زره) ماشومان وار له مخه ښوونځیو ته له تګ محروم دي، دا چاره به د ښوونیز بهیر ځنډ لا پسې پراخه کړي. د ښوونیزو مرکزونو بندښت به ددې سبب شي چې یو شمېر ماشومان د تل لپاره ښوونځي ته د ورتګ موکه له لاسه ورکړي او په پایله کې به د ماشومانو عمومي خوښي او سلامتي اغېزمن کړي.

کله چې ښوونځي بیا پرانېستل شي، په بېړنیو حالاتو کې د زده کړې کاري ګروپونه یا EiEWG به د تقویتي درسي ساعتونو او ژمي موسم ته د ښوونیز کال د غزېدو سره مرسته وکړي. د ۲۰۲۰ کال په څلورمه ربعه کې به په بېړنیو حالاتو کې د زده کړې کاري ګروپونو یا EiEWG غبرګون دا وي چې دولتي ښوونځي او د ورتیا پر بنسټ د زده کړې مرکزونو ته د څکلو پاکو اوبو او فاضلاب مناسبې اسانتیاوې او ژمني وسایل په واک کې ورکړي، ترڅو صنفونه بیا پیل شي. (په عاجلو حالاتو کې د زده کړې کاري ګروپونه) یا EiEWG به ټولګیو ته ځانګړي ژمني وسایل او د تودولو خدمات برابر کړي، ترڅو اطمینان حاصل شي چې زده کوونکي به د ښوونیز کال په سختو ژمنیو شرایطو کې بشپړ کړي.

## د ځانګړو اړتیاوو لرونکي او له ګواښ سره مخامخ خلک

اټکل کېږي چې د ژمي په را روانو میاشتو کې د زیان کچه د هغو کسانو لپاره چې ځانګړې اړتیاوې لري، لوړه شي. د زیان دا کچه به په ځانګړې توګه مېرمنې ، ډېر عمر لرونکي کسان، ځوانان ، نوي زېږېدلي او شیدي خوړونکي ماشومان، فزیکي او رواني معلولیت لرونکي اشخاص، بومي نفوس، بې ځایه شوي، بېرته راستانه شوي او لږه کی یا اقلیتونه په لویه کچه زیانمن او په ټولنیز- اقتصادي لحاظ وځپي. دا وضعیت به د ژمي د سړې هوا له امله نور هم سخت شي. د نفوسو هغه ډلې چې تر ټولو زیات د زیانمن کېدو له خطر سره مخامخ دي، عبارت دي له:

I. هغه کسان چې په پراخه کچه په غېر رسمي اقتصاد تکیه لري (په غېر رسمي اقتصادي فعالیتونو کې ښکیل دي) او یا او یا تر ټولو زیات پوروړي دي.

II. هغه کسان چې د ټکان په ګواښ لرونکو سیمو کې اوسیږي.

III. هغه کسان چې په لوړو ارتفاع لرونکو سیمو کې اوسیږي.

IV. هغه کسان چې مناسبو ټولنیزو او روغتیایي خدمتونو ته سمه لاسرسی نه لري.

V. هغه کسان چې له سختو او سړو ژمنیو شرایطو سره د مقابلې او تطابق لپاره تر ټولو کم/محدود ظرفیتونه او فرصتونه ولري.

### اقتصاد او په موسمي کرهنې تکیه

هغه حد ته په کتو چې اقتصاد او اقتصادي فعالیتونه په کې قطع کیږي، د معیشت له لاسه ورکول شاید د مقابلې اوسني میکانیزمونه تر فشار لاندې راولي، ځکه چې له تودوخې، د تودوخې اړینو موادو، ژمني پوښاکونو او سرپناه پرته د ژمي موسم هغه موده ده چې فقر یا لوړه پکې خپل وروستي حد ته رسیږي. د ژمي په موسم کې د خوراکي توکو د تولید او د عاید فرصتونه محدود وي. په کلیوالو سیمو کې کوچني بزګران خپل حاصلات په اوړي او د ژمي موسم له پیل وړاندې میاشتو کې ترلاسه کوي. دا چې په افغانستان کې د مالونه یا حیوانات د ټول کلیوال نفوس 69٪ لپاره د غذایي موادو او د کټې د تولید اصلي سرچینه ګڼل کیږي، په ژمي موسم کې څاروي لرونکي یا هغه بزګران چې مالونه ساتي، د خپلو مالونو ساتلو لپاره محدود واښه لرونکې ځمکې او په کمه اندازه د حاصلاتو پاتې شونو (بوس یا ګیا) ته لاسرسی لري. په ژمي موسم کې تر ډیره واښه تر واورې لاندې پټ وي او شنو ګیاوو ته لاسرسی له خطره ډک وي.

### چاپیریالیزه/محیطي روغتیا

د نړیوال روغتیایي سازمان (WHO) د وړاندوینې له مخې په افغانستان کې د چاپیریالیزو خطرونو له امله مړینه د مجموعي مړینې 26٪ جوړوي. دا مړینه په نقلیه وسایطو او کورنیو جنراتورونو کې د ټیټ کیفیته نفتي/سوند موادو د کارونې، د سپکو صنعتي سرچینو او د فاضله توکو، پلاستیک، ډبرو سکرو او رابر د سوزېدو له امله رامنځته کیږي. نور فکتورونه چې ددې وضعیت له منځته راتلو سره مرسته کوي، د نفوسو له چټکې ودې، نامناسبه ښاري پلان او په ښاري سیمو کې په کافي اندازه د شنو سیمو د نه موجودیت څخه عبارت دي. د هوا ککړتیا کچه هغه مهال لوړیږي چې کورنۍ د پلاستیک، د نقلیه وسایلو د ټایرونو سوزولو او د ژمي موسم له راسیدو سره په بخاریو کې د خونو د تودولو لپاره د ډبرو سکرو څخه کټه اخلي. په ټېر ژمي کې 60٪ کورنۍ نه وې توانیدلې چې خپلې سرپناوې په کافي او مناسبه اندازه تودې وساتي. دا په داسې حال کې وه چې 30٪ کورنۍ د خپلو خونو تودولو لپاره پلاستیک او نور خطرناک فاضله مواد سوزولي و. مېرمنې او ماشومان تر ټولو زیات د کور چاپېریال د هوا ککړتیا له خطر سره مخامخ دي، ځکه چې دوی د سړیو په پرتله زیاته موده په کور کې تیروي.

### د نفوسو ګروپونه

دا ستراتیژي د (اغېزمن شوو ټولنو) له کړنلارې استفاده کوي. په اغېزمنو ټولنو کې کډوال، بېرته راستانه شوي، داخلي بې ځایه شوي او کوربه ټولنې شاملیږي - د بې ځایه شوو او کوربه ټولنو لپاره د متحده برنامه سازۍ ملاتړ کوي، او مناسب اقتصادي، چاپېریالیز او ټولنیز فکتورونه (حقوقي، مادي او فزیکي امنیت) په پام کې نیسي. د نفوسو ګروپونه په نورو پنځو اصلي ګروپونو ښه تنظیم شوي دي:

i. هغه خلک چې په 2020 کال کې بې ځایه شوي دي.

ii. هغه خلک چې په 2020 کال کې اغېزمن شوي دي.

.iii هغه خلک چې په 2020 کال کې بېرته راستانه شويدي .

.iv په افغانستان کې میشت کډوال.

.v هغه خلک چې په بشپړه توګه د زیان له خطر سره مخامخ دي او بشردوستانه مرستو ته اړتیا لري.

## 3 کلستري پلانګذاري

### د اړتیا ارزونه

اټکل کیږي چې په 34 ولایتونو کې ټولټال 2.5 میلیونه کسان به په اوچتو او سخت ژمی لرونکو سیمو کې میشت وي او ژمنیو مرستو ته اړتیا ولري. د افغانستان لپاره حد اقل اقلیمي اټکل د پخوانیو/تاریخي یادښتونو له مخې ترتیب شوی دی. د افغانستان لپاره د واورې او باران اوسط کلني پوخښښ اټکل د 2006 کال د فیبروری میاشتې څخه د 2015 تر اکتوبر میاشتې د اوسط میشاتنی او کلنی واورې او باران اورښت له مخې اټکل شوی.




۳ شکل؛ د افغانستان لپاره د واورې او باران اوسط کلني او میاشتني اورښت کچه

ژمنیو مرستو ته د اړتیا او وضعیت له مخې لومړیتوب ورکړل شوی دی. د ولایت پر بنسټ اړتیا د لاندې عواملو له مخې په نظر کې نیول شوی دی:

a) په ژمي موسم کې د اقلیمي شرایطو شدت

b) د ګواښوونکو عناصرو سره د ولایت د نفوسو د تقابل حد

c) د نفوسو شمېر چې د ګواښوونکو عناصرو سره په تقابل کې وي

له دغو دریو پارامترونو سره په همغږۍ، ولایتونه د لومړیتوب له مخې په؛ ۱ لومړیتوب،۲ لومړیتوب او ۳ لومړیتوب لرونکي ولایتونو ویشل شوي دي.

| لومړیتوب | د ولایتونو نومونه | مجموعه |
| --- | --- | --- |
| ۱ لومړیتوب | بدخشان، بامیان، دایکندی، غزني، غور، کابل، کاپیسا، لوګر، نورستان، پکتیکا، پکتیا، پنچشیر، پروان، وردګ، هرات، ننګرهار، بغلان، کندز او بلخ | 19 ولایتونه |
| ۲ لومړیتوب | بادغیس، فاریاب، کندهار، خوست، کنړ، سمنګان، تخار او ذابل | 8 ولایتونه |
| ۳ لومړیتوب | فراه، هلمند، جوزجان، لغمان، نیمروز، سر پل او ارزګان | ۷ ولایتونه |
| مجموعه | | ۳۴ ولایتونه |

*۴ شکل؛ لومړیتوب ورکړل شوي ولایتونه*

## د سرچینو نقشه کول




*۵ شکل؛ د سرچینو نقشه کول*

د کلستر تفصیلي پلانونه، د رسیدګۍ شمېر او د مالي ملاتړ تفصیل يې په لاندې توګه خلاصه شوي دي:

| کلستر | د رسیدګۍ شمېر (کسان) | ټول لګښت (ډالر) | شته ظرفیت (کسان) | موجوده مالي ملاتړ(ډالر) | د تمویل تشه/ اړتیا (ډالر) |
|---|---|---|---|---|---|
| ( په بیړنو حالاتو کې د زده کړې کاري ګروپونه ) یا EiEWG | 300.000 | $4.8 | 102,892 | $176705 | $4.6 |
| بیړنی سرپناه او غیر خوراکي توکي | 1359.792 | $57.5 | 397,908 | $17.4 | $40.1 |
| غذايي خوندیتوب او کرهنیز کلستر | 1694.456 | $54.45 | 1,148,832 | $37.47 | $16.98 |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| روغتیا | 2500.000 | $6 | 600000 | $1.5 | $4.5 |
| تغذیه | 63603 | $3.3 | 167,797 | $4 | $-- |
| ساتنه/خوندیتوب | 402564 | $6.9 | 35,000 | $1 | $5.9 |
| صحی اوبه، فاضلاب او حفظ الحصه | 100000 | $3.9 | 0 | $0 | $3.9 |
| مجموعه | | $139 | | $63.6 | $74 |

*۶ شکل؛ کلیستر ته رسیدنه او د مالي ملاتړ ویش*

د سرچينو برابرولو د نشتوالي لنډيز






*8 شکل؛ تغذيه، ساتنه او د اوبو، فاضلاب او حفظ الصحي (WASH) مالي ملاتړ/فنډ تشه*




۹ شکل: په بېړنیو حالاتو کې د زدکړې کاري ګروپونو لپاره د مالي ملاتړ/فنډ تشه

### د کلستر لومړیتوب

ټول اړوند کلستورنه خپلو ورسپارل شویو ژمنیو فعالیتونو ته لومړیتوب ورکوي. دغه ستراتیژي د حل یوه لړ حل لارې اولویت بندي کړې دي. د بېلګې په توګه؛ مناسبه سرپناه، تودښت او غېر خوراکي توکي، ژمني پوښاکونه، خوراکي مرستې، د څارویو محافظت/ساتنه، د څکلو پاکې اوبه او حفظ الصحه، کافي درمل او روغتیايي لوازم.

هر کلستر د ژوند ژغورلو ته لومړیتوب ورکوي، په داسې حال کې چې د اوږد مهاله او دوامداره سرپناه اړتیاوو پوره کولو ته هم ژمن دي، کوم چې له اغېزمنو کورنیو سره مرسته کوي ترڅو ځاني خوندیتوب او هوساینه لاسته راوړي. دا موارد په 3.4 برخه کې ذکر شوي دي.

د (پاتې شئ او ورانديې کړئ) دوامداره خلاقانه کړنلاره همکاران هڅوي ترڅو دوامداره او له محدودیت پرته بشردوستانه فعالیتونو ته له لاسرسي سره له نږدې وصل شي، له تمویلوونکو څخه مناسب او د وراندوینې وړ سرچینې ترلاسه کړي او په هغو سیمو کې چې تر ټولو زیاته اړتیا پکې لیدل کیږي، د اړتیا وړ کارکوونکي وساتلی شي.

### د کلستري مرستو نمونې/حالتونه

په دغه پلان کې ذکر شوي غبرګونونه/ځوابونه به د توکو په بڼه، د نغدي مرستو او سند ترکیب په توګه وراندې شي. ډیری کلسترونه په پام کې لري چې خپلې مرستې په نقدي بڼه وراندې کړي، مګر دا کار باید هغه وخت چټک او زیات شي چې وضعیت وخیم کیږي او د توکو د انتقال لپاره ټولې لارې

وتړل شي. کله چې ممکنه وي، نقدي ژمنې مرستې باید لومړیتوب ولري، دا لومړیتوب باید د ګټه اخیستونکي د متضرره کېدو له شرایطو، په نړدې ساحه کې د فعال مارکیټ او د اړتیا وړ ژمنیو توکو د شتون له مخې ترسره شي. نقدي او د سند په بنه کومکونه کولای شي د بشري مرستو له فعالانو سره مرسته وکړي ترڅو په دوامداره توګه د ژوند ژغورلو فعالیتونو ته ادامه ورکړي او تر ټولو ډېر متضرره خلکو ته مرستې ورسوي، په دې بنه مرسته به متضررینو ته د زیاتو انتخابونو او انعطاف فرصتونه په لاس ورکړي. په داسې حال کې چې د توکو په بنه د مرستې په پرتله، له نقدي مرستو سره تړلې خطرونه د لاندینیو عواملو له مخې کمېږي:

I. غوره پلانګذاري، ممکنه ارزونه، د مارکیټ څار او د خطر د انتقال تحلیل.
II. اطمینان حاصلول چې کارکوونکي د نقدي مرستو یا د سند په توګه د مرستو وېش په تطبیق پوهېږي.
III. په پروسو او سرچینو د اظافي او منظم چیکونو جوړول.
IV. له کارکوونکو/همکارانو، او تمویلوونکو سره هغو ټولنو ته لومړیتوب ورکول چې په ښه بڼه یې خپل اسناد ترتیب کړي وي.
V. کارکوونکو، همکارانو، او هغه ګټه اخیستونکو ته چې د COVID-19 خطر سره مخامخ دي او د وېش احتیاطي تدابیرو تطبیق.
VI. اوسنی امنیتي وضعیت؛ دا ډېره مهمه ده چې همکاران د امنیتي وضعیت ارزونه وکړای شي، د پروژې تطبیق سیمو ته د نقدو پیسو د انتقال په ظرفیت جوړونې فکر وکړي، امنیتي او محافظتي روزنې په پام کې ونیسي او امنیتي خطرونه کم کړای شي.
VII. ګڼ سکتوري اړتیاوې په هر اړخیزه توګه ارزول کېږي، ترڅو نقدي مرستې له خپل ټاکلي هدف څخه بل ځای او په نورو اهدافو ونه لېږول شي.

## د خواب ویلو معیاري کڅوړې/بستې

د خواب ویلو معیاري کڅوړې د مرستې له هغه حد اقل مواردو او خدماتو ته د لاسرسي له سطحې څخه عبارت دي چې باید د کورنیو په کچه وویشل شي. دا بستې د هغه اټکل یا ارزونې له مخې ترتیب شوي چې یوه کورنۍ ورته اړتیا لري او ژمې پرې تېرولای شي. دا تر ټولو کوچنۍ بسته ده او په بشپړه توګه بېلابېلې او مختلفو ډلو اړتیاوې نه رانغاړي. په همدې خاطر ددې کڅورو وړاندې کول باید داسې ونه انګېرل شي چې ګویا ټولې اړتیاوې پوره کوي او بې له دې چې اړتیاوې په مسلکي ډول و ارزول شي، له نظره وغورځول شي. د هر کلستر لخوا حد اقل وړاندې کیدونکي بستې په لاندې توګه خلاصه شوي دي:

| Food Security | Health | Nutrition | ES-NFI | WASH | Protection | Education |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 4 months food assistance<br><br>Livestock protection package | Emergency health services through mobile & static health clinics. | Treatment of SAM and MAM<br>Winterization kit for PLWs<br>Winter clothing kit | Heating / fuel assistance<br><br>Blanket package<br><br>Standard winter clothing package<br><br>*If required:* Shelter Repair / Upgrade<br><br>Rental assistance, Winterised kit as appropriate. | WASH package<br><br>WASH NFI<br><br>Family hygiene kit<br><br>*If required:* Safe drinking water by tankering or water treatment kits<br><br>Emergency latrines and bathing spaces | Referral of protection/PSNs cases<br><br>GBV screening and referral<br><br>Dignity kit distribution<br><br>Identification of children with specific needs(PSN)<br><br>Winterization kit for children with specific needs. | Heating of classrooms.<br><br>Winter clothes for school aged children. |

*۱۰ شکل؛ د معیاري غبرګون بستې/کڅوړې*

## بیړنۍ سرپناه او غېرخوراکي توکي

**اړمن خلک**

4.85 میلونه خلک

**د مالي ملاتړ/فنډ اړتیا (ډالر)**

57,5 میلیونه ډالر

**اوسنی هدف**

1,359,792 میلونه خلک

**اوسنی ظرفیت**

17.4میلیونه ډالر

**کلیدي سکتوري ستونزې او ګواښ**

i. د 2020 کال د نومبر میاشتې له 15 نیټې د تنفسي ناروغیو، هایپوترمیا او د سړې هوا له امله مستقیماً مړینه زیاتېږي. په اکثرو قضیو کې دا پېښې مسقیماً له غېر کافي فزیکي سرپناه او د شخصي خوندیتوب له کمښت سره اړیکه لري.

ii. د COVID-19 وبا نه یواځې دا چې د خلکو فزیکي روغتیا ته خطر دی، بلکه د خلکو اقتصاد ته هم یوه خطره دی. اټکل کېږي چې د وبا د اقتصادي پایلې په توګه زیات شمېر خلک د خپل معیشت بایللو له امله اغېزمن شي. په همدې سبب به کلستر خپل ژمنی پروګرام د زیاتو متضرره کېدونکو خلکو په نښه کولو له لارې پراخه کړي. کلستر به متضرره خلکو ته د سونګ موادو، ژمنیو پوښاکونو او د سرپناه خوندیتوب

ملاتړ له لارې مرسته وکړي، ترڅو وکولای شي د راتلونکي ژمي پرورانډې مقاومت وکړي. هغو کورنیو ته باید لومړیتوب ورکړل شي چې له خطر سره مخ دي. له دا ډول کورنیو سره باید ژمنۍ مرستې ترسره شي، ترڅو د تودولو په خاطر د فاضله توکو کارول کم کړي. د تودوخې په موخه د فاضله توکو سوزول او د بې کیفیته سوند موادو کارول د حاد تنفسي ناروغیو سبب کیږي او دا چاره په COVID – 19 د اخته کیدو خطر ډېروي.

iii. په داسې حال کې چې په افغانستان کې د نفوسو 80٪ په فقر کې ژوند کوي او د خپلو اړتیاوو پوره کولو لپاره په ورځنۍ توګه 1.25 ډالره عاید لري، له نابرو پېښو او شدید ژمي سره د دوي د مقابلې ظرفیت ډېر ټیټ دی. ډېری داخلي بې ځایه شوي په داسې حال کې د خپلو کورونو پرېښودو ته اړ شوي چې مناسب پوښاک نلري او په موقتي سرپناوو کې ژوند کوي. دا ډول ژوند دوی ته د عفت ساتلو، خصوصي حریم خوندیتوب او محافظت امکانات نه رامنځته کوي او دوی د باران، واورې او د کنګل کچې سړښت سره مخامخ وي. د ارزونې راپورونه په ګوته کوي چې 65٪ داخلي بې ځایه شوي کورنۍ اوسمهال په جمعي مرکزونو، موقتي سرپناوو، سر خلاصو ساحو، خیمو او کمزوري موقتي سرپناوو کې ژوند کوي.

iv. تر 4.1 میلیون پورته داخلي بې ځایه شوي خلک چې له 2012 کال وروسته بې ځایه شوي دي، اوس هم په غېر رسمي کلیوالو او ښاري سیمو کې په داسې حال کې ژوند کوي چې د سرپناه کیفیت یې ټیټ دی او د خصوصي حریم او ځاني خوندیتوب د امکاناتو له کمښت سره مخامخ دي. دا سرپناوې تر حده زیات ګڼ میشتې دي او د کمزوري تهویې سیستم لرونکي دي. موجوده غیر رسمي هستوګنځایونه د هستوګنې نامناسب پلانګذاري او د تودوخې، انرژۍ، پاکو اوبو او فاضلاب عامه اسانتیاوو څخه بې برخې دي. څکه چې په لوی شمېر کورنۍ نشي کولای په کافي توګه د ژمي موسم ته امادګي ونیسي او دا وضعیت د کمو سرچینو د شتون له امله دوه برابره کیږي، د بشري مرستو له بنستونو جدي غوښتنه کیږي چې هر کله د ژمنیو مرستو لپاره د ګټه اخیستونکو انتخاب کوي، د متضررینو انتخاب په سیستم د لومړیتوب معیارونه تطبیق کړي او د لومړیتوب هغه شرایط په نظر کې ونیسي چې د کلستر له لوري ټاکل شوي دي.

v. د ارزونې راپورونو له مخې په تېر ژمي کې داخلي بې ځایه شوي کورنۍ کمبلو او د تودوخې موادو ته محدوده لاسرسي لرله. د داخلي بې ځایه شوو له ډلې 64٪ فاضله توکي (کاغذ، پلاستیک، کارتن او نور)، لرګي او خاشاک/بوټي د تودولو انرژۍ د اصلي سرچینو په توګه کارول. 58٪ داخلي بې ځایه شوي ویلي چې د یو تن لپاره تر یوې کمه کمبله لرله.

vi. په افغانستان کې د کورني هوا ککړتیا (HAP) په کلنۍ توګه د 27000 کسانو د مړینې سبب شوی، په داسې حال کې چې د بهرنۍ هوا ککړتیا په کلنۍ توګه 11000 کسان وژلي دي. دا ستونزه د ژمي په موسم کې جدي وي، څکه چې په زرګونه کورنۍ د سوند لپاره پلاستیک، د موټرو زاړه ټایرونه او اومه د ډبرو سکاره په بخاریو کې د تودوخې په موخه کاروي.

<u>**د ځواب ورکونې هغه فعالیتونه چې د ژمي پروخت باید لومړیتوب ورکړل شي**</u>

i. **ژمني پوخاکونه او کمبلې**؛ د بدن تودوخې د ساتلو لپاره باید ژمني پوخاکونه او کمبلې ورکړل شي، په ځانګړي توګه هغو خلکو ته چې د ځانګړو اړتیاوو لرونکي وي؛ لکه ماشومان، سپین ږیري او د اوږدې ناروغۍ لرونکي، او هغه کسان چې په خپل ځای ناست دي(له خپلې بسترې نشي پورته کېدای)، او دا توان نلري چې د خپل ځان لپاره د مناسبې تودوخې ساحه برابره کړي. دا باید په نظر کې ونیول شي چې په ژمي موسم کې د امادګۍ صنفونو بیرته پیلول به په دې مانا وي چې د ښوونځي ماشومان به د وجود تودوخې ساتلو لپاره ګرمو ټولګیو او ژمنیو پوخاکونو ته اړتیا لري. د افغانستان د سرپناه کلستر له لوري په ژمي موسم کې د یوې کورنۍ لپاره د ژمنیو وسایلو د یوې بستې بیه 65 ډالره ټاکل شوې ده.

i. **د عاجلې سرپناه اصلاحات**: په کومو ځایونو کې چې د ژوند خوندیتوب او نورو انتخابونو نه شتون له امله باید خیمې او موقتي سرپناه وکارول شي، د تخریب شوو/شلېدلو خیمو بدلول او د عاجلو سرپناوو دقیقه څارنه اړینه ده، ترڅو وکولای شي چې د باد وزن پرورانډې مقاومت

وکړي، د سطحي اوبو د مسیر بدلولو په موخه د خیمې شاوخوا د اوبو (باران او فاضله اوبو) لېږد ویالې وویستل شي او چیرې چې امکان ولري نو ځمکه پورته شي (پر کاري ترسره شي ) او خیمې ته د سطحې اوبو د ننوتلو مخنیوی وشي. د ځمکې عایق کول او په ځمکې د خاورې یوې طبقې رامنځ ته کول ددې لپاره ډېره اړینه ده چې نه پرېږدي تودوخه د ځمکې له لارې ضایع شي. دا چاره د سرپنښت په مختلفو مرحلو کې مقاومت منځ ته راوړي. ژمنی بستې چې د لاندې توکو لرونکي وي، باید ورکول شي: د خوب عایق توشکې (د کورنی د شمېر په انداز)، د حرارت ضد یوه تخته (چې د لرګو یا تیلو بخارۍ وربانديې کېښښودل شي)، یو د حرارت ضد لستونی/پوخ (د بخارۍ د نل لپاره، ترڅو نل په کې داخل کړای شي او د بخارۍ نل د خیمې له دیواله ووځي). وروستي اقلام ددې لپاره ورکول کیږي چې د لرګو یا تیلو بخارۍ د خیمې په داخل کې استعمال کړای شي.

ii. **د هغه سرپناوو ترمیم/جوړول چې په بد وضعیت کې وي؛** د حرارت ساتلو او ددې لپاره چې مرسته وکړي د سرپښت مرحلو کې سرپناه روغ پاتې شي، د سرپناوو عایق کاري ډېره مهمه وي. شدیده سړه هوا کولای شو چې د دروازو، کړکیو، عایق کوونکو ښیښو او په درزونو د پلاستیکي پردو او کرباس ټوټو د اچولو له لارې بند او له سرپناه څخه د تودوخې د فرار مخه ونیسي او اجازه ورنکړي چې سړه او شدیده هوا سرپناه ته داخله شي. اړوند کلستر به هغه کورنو ته لومړیتوب ورکړي چې د وروستیو سیلابونو له امله په نسبتي توګه رنګ شوي او وراندې ترډې چې ژمی را ورسیږي، د یادو کورنیو سرپناه به ترمیم او یا ورغوي.

iii. **د کرائې مرسته:** دا نمونه د هغه خلکو لپاره ګټور دی چې د محدودیتونو له امله یې د کافي عاید لاسته راوړلو وړتیا له لاسه ورکړې او نشي کولای خپل لومړنی اړتیاوې (کرایه، خواړه او نور) پوره کړي. د کور د کرائې لپاره نقدي مرسته یا CfR باید هغو ترټولو زیات متضرره او په خطر کې ایسارو کوونیو ته ورکړل شي چې په لوړ ارتفاع لرونکو سیمو کې اوسیږي او یا په ښاري مراکزو کې اوسیږي او د ژمي موسم لپاره د امن سرپناه په لټه کې وي. د کور د کرائې لپاره نقدي مرستې موخه داده چې د مبارزې ستراتیژیو منفي اغېز کم کړي، د متضرره کورنیو او د هغوی د خصوصي حریم ساتنه وکړي، او د متضررینو امنیت او تصرف یقیني کړي. د کور د کرائې لپاره نقدي مرسته د (عاجلې سرپناه او غیر خوراکي توکو) د کلستر له لوري د میاشتې 75 ډالره د هرې کورنی لپاره په نظر کې نیول شوی دی. دا مرسته باید د درېو میاشتو لپاره دوام وکړي. له لومړني قست څخه تر 12 میاشتو پورې ددې مرستې تمدید د یو انتقالي سرپناه په توګه په نظر کې نیول شوی، له کورنی څخه د اړتیا اړوند تازه معلوماتو په راټولولو او د همکارانو له لوري د مالي ملاتړ په ترلاسه کیدو پورې اړه لري. یعنې که کورنی اړتیا ولري او ملاتړي مالي مرسته وکړي، دا مرسته به تمدید کړای شي.

iv. **بخارۍ او د سون موادو/تیلو مرسته؛** د شته ساختمانونو په ګډون د سرپناه ټول ډولونه به د ژمي په موسم کې د ګټې اخیستنې په موخه د تودښت ستراتیژۍ ته اړتیا ولري. د سرخلاصي مایعاتو او جامدو سوند توکو کاروونکي وسایل باید په داسې سیمه کې ونه کارول شي چې هلته په پراخه پیمانه بې خطره بدیل د سوند مواد شتون ولري او د منلو وړ وي. چیرې چې فکر کیږي موجوده د تودوخې سیستمونه کافي نه دي، کیدای شي چې د انفرادي برقي یا ګازي بخاریو له لارې مرستندویه تودوخه تهیه شي، خو دا انفرادي برقي یا ګازي واحدونه باید د داخلي استفادې لپاره تائید شوي او بې خطره وي، او د ګازي بخاریو په صورت کې باید د مصوونیت/خوندیتوب اضافي توکو درلودونکي وي. په (نقده یا د جنس په بڼه ) د ډېرو سکرو، د سوند لرګو او ګازو ورکړه لا هم د ژمني پروګرام اصلي فعالیت ګڼل کیږي. د هرې کورنی لپاره د ۳ میاشتو تودوخې/سوند توکو د مرستې اندازه 200 ډالره ټاکل شوې، چې کورنی کولای شي پرې مناسبه ګازي بخارۍ یا ګیس ډبه وپیري، 180 کیلو ګرامه د سوند لرګي او یا ګاز وپېري. د بخارۍ د پخلي او ګرمایښت فعالیتونه باید بیل بیل په نظر کې ونیول شي او د اور لړېدنې خطر د کمولو په وخت کې ډېر احتیاط وشي. لوګي د تنفسي او سترګو ناروغیو عام سبب ګڼل کیږي.

v. **د انتقالي سرپناه کړنلاره؛** چې د ژمي تر موسم مخکې وړاندي کیږي، باید د انتقال لګښتونه هم په نظر کې ونیسي، ځکه چې ګټه اخیستونکي طمع لري اوږد مزل وکړي ترڅو د اړتیا وړ ساختماني مواد ترلاسه کړي. همدارنګه یوه اندازه نقدې پیسې باید د کار په موخه

هم په پام کې ونیول شي تر څو له کورنیو سره مرسته وکړي چې د سرپناه جوړولو پرمهال خپلې اړتیاوې پوره او په اقتصادي لحاظ بې وزغملای شي. له همکارانو غوښتنه کیږي چې د ساحوي لیدنو او روزنیزو فعالیتونو پرمهال د تولنیز واټن، د خوندیتوب معیارونه او د حفظ الصحې فعالیتونه په نظر کې ونیسي.

**د مرستې معاري کڅوړې**

i. تر ژمي وړاندې د بیړني سرپناه مرستې:

a. د تخریب شوې خېمې بدلول.

b. د سرپناه عایق کولو لپاره د موادو، لوازمو او تخنیکي مرستې وړاندې کول.

c. د هغه خلکو لپاره د بیړنی سرپناه مناسب وسایل برابرول چې په خلاصه فضا کې ژوند کوي.

d. د سرپناه د ترمیم/جوړولو لپاره د معیاري قیمت ټاکل. د تخریب شوې سرپناه د ترمیم لپاره 300 ډالره او د جوړولو لپاره 500 ډالره تخمین شوی دی.

e. د خوب بسترې (د کورنۍ د اندازې په تناسب) په ګډون د ژمنیو وسایلو برابرول، د حرارت ضد یوه تخته (چې د لرګو یا تیلو بخارۍ پرې کښېښودل شي)، یو د حرارت ضد لستونی/پوخ (د بخارۍ د نل لپاره چې په کې داخل کړای شي او د بخارۍ نل د خیمې له پردې بهر وویستل شي). وروستي اقلام ددې لپاره ورکول کیږي چې د لرګو یا تیلو بخارۍ د خیمې په داخل کې استعمال کړای شي. دا وسایل د هغه کورنیو لپاره دي چې په بیړنیو سرپناوو کې ژوند کوي.

f. د کرائې د بازار ارزونه دې ترسره او د کرائې تړونونه لاسلیک شي. دا مرستې د 2020 کال د سپتمبر میاشتې څخه د 2021 کال تر نومبر میاشتې پورې د ژمي سختې دورې وړاندې چې د 2020 دسمبر میاشتې څخه د 2021 کال تر فبرورۍ میاشتې دوام کوي، چمتو کیږي.

ii. په ژمي موسم کې د عاجلې سرپناه مرسته:

a. نقدي/جنس په توګه د ژمني پوخاک د وسایلو بستې ورکول، ددې بستې بیه د افغانستان د سرپناه کلستر له لوري 65 ډالره د هرې کورنۍ لپاره ټاکل شوې ده.

b. نقدي/د جنس په توګه د کمبلو او برستنو بستې ورکول، د هرې کورنۍ لپاره ددې بستې بیه د افغانستان د سرپناه کلستر له لوري 40 ډالره ټاکل شوې ده.

c. په نقدي/ د جنس په توګه د بخارۍ سوند موادو/تیلو مرسته. د هرې کورنۍ لپاره ددې بستې بیه د افغانستان د سرپناه کلستر له لوري 200 ډالره ټاکل شوې ده. دا هغه مناسبه بیه ده چې یوه کورنۍ وکړای شي د ګازو ډبه یا بخارۍ، 180 کیلو ګرامه د سوند لرګي او یا ګاز وپیري.

d. د سرپناه د کرائې سبسایډي بستې ورکول. د هرې کورنۍ لپاره د یوې میاشتې لږ تر لږه 75 ډالره ټاکل شوی او د 3 میاشتو لپاره ورکول کیږي.

## غذایی خوندیتوب او کرهنه

د خوړو او څارویو مرسته

1,694,456 تنه

اوسنی ظرفیت ( امریکایي ډالر)

37.47 میلیونه

د مالي ملاتړ/فنډ اړتیا (ډالر)

54.45 میلیونه

د مالي ملاتړ/فنډ تشه (ډالر)

16.98 میلیونه

**کلیدي سکتوري ستونزې او ګواښ**

i. د کوچنیو بزګرانو لپاره د خوراکي توکو د سرچینو کمښت، په لرې پرتو ولسوالیو کې د غذایي موادو د موجودیت موسمي اغېز، د کاریګرو موسمي تقاضا کمښت او په ښاري کمزوري معیشت د COVID-19 وبا جاري اغېزې.

ii. د کمښت له امله ګیاوو، د څاریو د خوارکي توکو او د خوراکي توکو بازار ته محدوده لاسرسی. د COVID-19 د مخنیوي اقداماتو او څارویو څخه لاسته راغلو محصولاتو غېر ثابت رجعت دا ستونزه دوه برابره کړېده.

**د ژمي په موسم کې د ځواب ویلو/غبرګون لومړیتوب لرونکي فعالیتونه**

i. په نښه شوو سیمو کې د ژمنیو، غذایي خوندیتوب او کرهنې کلستر فعالیتونو ترمنځ لاندې موارد د یو بل بشپړوونکي دي، تر څو د ژمنیو مرستو خرڅلاو کم کړي، د غذایي موادو د لګښت اړتیا پوره کړي او د محافظتي حیواناتو د وجود وضعیت په ګډون د حیواني شتمنیو ساتنه وکړي.

ii. د څارویو لپاره د ژمنیو برنامو ټول فوکس به په مرکزي غرنیزو سیمو وي، په ځانګړي توګه بامیان، دایکندي او غور. همدارنګه بدخشان، تخار، کندز، سمنګان او نورستان ولایتونه، چېرته چې شپانه د خپلو تولیدي حیواناتو او د حیواناتو د بدن ټولیز وضعیت ساتنې پرمهال له سختو محدودیتونو سره مخامخ کېږي.

iii. د بامیان، دایکندي او بدخشان په ګډون ټوله څېرنه به په غرنیزو یا هغه سیمو وي چې په لوړه ارتفاع کې موقعیت لري. په دې سربېره به هغه سیمې هم تر پوښښ لاندې راځي چې زیات شمېر داخلي بې ځایه شوي پکې اوسیږي او په کمزورو سرپناوو کې ژوند کوي، په دې ولایتونو کې کابل، هرات، کندهار او ننګرهار ولایتونه شامل دي.

**معیاري کمکي کڅوړې**

i. د څلورو میاشتو لپاره په دوو دورو کې د توکو په بنه د خوړو پېي/سبد وېش؛ په دغې پېی کې ۴۶ کیلوګرامه تقویه شوي د غنمو وره، ۴.۵ کیلوګرامه نباتي غوړي، ۸.۶ کیلو ګرامه نخود/لوبیا او ۱ کیلو ګرامه ایوډین لرونکي مالګه شامل دي.

ii. د حیواناتو د ساتنې بسته چې لاندې موارد پکې شامل دي: ۱۰۰ کیلو ګرامه د حیواناتو غذایي مواد، ۳ کیلو ګرامه د ګیاهي فصل تخم(اکثر د پسرلنیو حاصلاتو لپاره)، د چینجي ضد درمل او د حیواناتو د تغذیې او ساتنې په برخه کې غوره روزنې.

iii. د نقدي مرستې مستحقې کورنی به ۳۰۰۰ افغانی د څلورو میاشتو لپاره ترلاسه کړي، په دې کې غذایي سرتاسري مرستې هم شاملې دي او هدف نفوس هغه ۷۰۰۰ کډوال دي چې په خوست او پکتیکا ولایتونو کې میشت دي.

روغتیا

**ګټه اخیستونکي**

2,500,000 تنه

**د مالي ملاتړ/فنډ اړتیا (ډالر)**

6 میلیونه

**اوسنی ظرفیت ( امریکایي ډالر)**

1.5 میلیونه

**د مالي ملاتړ/فنډ تشه (ډالر)**

4.5 میلیونه

**<u>کلیدي سکتوري ستونزې او ګواښ</u>**

i. د COVID-19 وبا اوسنی روغتیایي سیستم ډېر سخت اغېزمن کړی دی. د COVID-19 د یوې دویمې څپې د احتمال (یعنې ددې امکانات شته چې د COVID-19 وبا یوه بله څپه هم راشي) او کمزوری مصونیت/معافیت ته په کتو، د ژمي د موسم لپاره باکیفیته روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی یوه حیاتي مسئله جوړه شوېده.

ii. تنفسي ناروغي – د سخت ژمي او سړې هوا له امله د پېښو زیاتوالي په غبرګون کې به د (COVID-19) په ګډون د ذات الریه (د سږو پړسوب یا pneumonia) او نورو تنفسي ناروغیو درملنه شامله وي. په ورته وخت کې د ډیرې شوې ناروغۍ څارنې یا مراقبت ته اړتیا ده، ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې د ناروغیو د خپرېدا او مړینې کمښت په موخه مناسبه او پر وخت درملنه ترسره شوې ده.

iii. لاسرسی – په کافي اندازه وسایلو ته اړتیا ده ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې له روغتیایي خدمتونو څخه محرومې ټولنې به اړین روغتیایي وسایل ولري او وکولای شي خلکو ته اړین روغتیایي خدمتونه وړاندې کړي. ددې لپاره چې ډاډه شو چې سړکونه به نه وي تړلي، وسایل باید د ۲۰۲۰ کال له نومبر میاشتې وړاندې په مطلوبو سیمو کې ځای په ځای شي(یعنې د ۲۰۲۰ کال تر نومبر وړاندې سړکونه تړلي نه وي، نو څکه باید روغتیایي یا طبي وسایل باید وار له مخه په هغو سیمو کې ځای په ځای شي چې پلان کې نیول شوي دي).

iv. د ژمنیو اړتیا پروړاندې غبرګون د COVID-19 موجوده غبرګون مرستندوی/بشپړوونکی وي.

**<u>د ژمي په دوران کې\د ځواب ورکونې لومړیتوب لرونکي فعالیتونه</u>**

i. د تنفسي ناروغیو په مخنیوي او کمولو کې د خطر پېژندنه او ټولنیز ګډون. سربېره پردې، د مهمو روغتیایي خدمتونو د جاري ساتلو لپاره د خطر پېژندنې او ټولنیز ګډون فعالیتونه.

ii. په روغتیایي مرکزونو او ټولنو کې د ناروغیو د مخنیوي او کنترول پراختیا، او همدارنګه د خوندي ځانګو او ځانګړې پاملرنې واحد (ICU) پراختیا په ګډون د قضیو مدیریت.

iii. د څار/مراقبت پراختیا، د قضیو تشخیص، او د ټولنې په منځ او دخولي نقطو په ګډون د COVID-19 او نورو تنفسي ناروغیو د ناروغانو اړیکې یا تماس څارل.

iv. د لابراتواري ازموینو/ ټیسټونو ډېرول.

v. د ګرځنده روغتیایي ټیمونو او مناسب ټولنیز واټن لرونکي ثابتو تسهیلاتو په ګډون د هغې نمونې یا کړنلارې له مخې د اړینو خدمتونو پیاوړي کول چې د کارکوونکو او ناروغانو د روغتیا لپاره خوندي وي.

## تغذیه

**کټه اخیستونکي**

63,603 تنه

**د مالي ملاتړ/ فنډ اړتیا ( امریکایي ډالر)**

3.3میلیونه

**اوسنی ظرفیت ( امریکایي ډالر)**

4 میلیونه

**د مالي ملاتړ/فنډ تشه ( امریکایي ډالر)**

--- میلیونه

### کلیدي سکتوري ستونزي او ګواښونه

i. په ژمي موسم کې د واورې او ختینو سړکونو له امله د هبواد اکثرو برخو ته فزیکي لاسرسی/تګ ناشونی وي (سړکونه د واورې او خټې له امله تړلي وي).

ii. د عادي خوارځواکۍ لرونکي ماشومانو، د ډېرې خوارځواکۍ لرونکي ماشومانو او شیدې ورکوونکو او امیندوارو مېرمنو درملنه د تغذيې کلستر تر چتر لاندې هغه فعالیتونه دي چې ورته لومړیتوب ورکړل شوی دی. که د ژمي د موسم اړوند خدمتونه وړاندې نه شي، دا چاره به د ماشومانو د تغذيې وضعیت د بدتره کیدو سره مرسته وکړي، شیدې ورکوونکو او امیندوارو مېرمنو لپاره به سخت وضعیت رامنځته کړي، دا ناروغۍ به په لویه پیمانه خپرې شي او د مړینې کچه به پورته لاړه شي.

iii. سربېره پردې، د ژمي په دوران کې شېدې ورکوونکي او امېندواره مېرمنې د تې ورکولو لپاره یوې فعالې ساحې او په نوي زېږېدلي او شیدې خوړونکو ماشومانو باندې د مېندو ګروپي بحث غونډو کې ګډون ته اړتیا لري. دا ډول ساحې به په دې خاطر هم مهم یا ارزښتمن شي چې شېدې ورکوونکي او امېندواره مېرمنې ځانونه له هغو اظطرابونو او فکري پاشلتیاوو لرې وساتي چې د تي شیدو د تولید هرموني تحرک د مداخلې سبب کیږي. دا ساحې به په دې خاطر هم ډېر زیات مهم شي تر څو شېدې ورکوونکي او امېندواره مېرمنې له هغو کسانو ځان ګوښه وساتي چې ناروغي لري.

iv. ژمي لپاره چمتوالی (د ژمي لپاره وار له مخه تیاری نیول) په دې خاطر حیاتي دی چې د متوسط شدیدې خوارځواکۍ او شدید حاد خوارځواکۍ لرونکو کسانو ته منظم او په وخت درملنې خدمتونه وړاندې شي.

### د ژمي په دوران کې د کمک ورکولو اړین فعالیتونه

i. د عادي خوارځواکۍ لرونکي ماشومانو درملنه.
ii. د شدید خوارځواکۍ لرونکو ، شېدې ورکوونکو او امیندواره مېرمنو درملنه.
iii. خوندیتوب، وده او د شېدې ورکوونکو او نوي زېږېدلي او شیدې خوړونکي ماشومانو لپاره د مناسب غذايي رژیم روزنې.
iv. د شدید حاد خوارځواکۍ لرونکو ماشومانو درملنه.

### کمکي معیاري کڅورې

i. د یو تن متوسط شدیدې خوارځواکۍ لرونکي ماشوم لګښت (خوراک ته تیار مکمله/بشپړ خواړه) یا (RUSF)
ii. د یوه تن شدیدې خوارځواکۍ لرونکې او شیدې ورکوونکي او امېندواره مېرمنې د تداوۍ لګښت (قوي سیریل/حبوبات)

iii. د يو تن شديد خاد خوارځواکي لرونکي غېربستري ماشوم د تداوی لګښت

iv. د يو تن شديد خاد خوارځواکي لرونکي بستري ماشوم د تداوی لګښت

v. د يوې شديدې خوارځواکۍ لرونکې او شيدې ورکوونکې او امېندواره مېرمنې لپاره د ژمني وسايلو د يوې بستې لګښت

vi. د پوخاک يوه بسته

## ساتنه/خونديتوب

| ګټه اخيستونکي | اوسنی ظرفيت (امريکايي ډالر) |
|---|---|
| 402,564 تنه | 1 ميليونه |
| **د فنډ/مالي ملاتړ اړتيا(امريکايي ډالر)** | **د مالي ملاتړ/فنډ تشه (امريکايي ډالر)** |
| 6.9 ميليونه | 5.9 ميليونه |

## <u>کليدي سکتوري ستونزې او ګواښ</u>

i. د راتلونکي ژمي (له نومبر ۲۰۲۰ څخه تر فيبروري ۲۰۲۱) ننګونې له هغې وړاندوينې عبارت دی چې له مخې به يې د ګواښ اوسنی کچه په استثنايي توګه ډېره شي، په ځانګړې توګه د ماشومانو او هغو کورنيو پروړاندې ګواښونه چې په لوړه کچه د COVID -19 وضعيت له امله اغېزمن شوي دي. همدارنګه، کورنی به اړ شي چې د ژوندي پاتې کېدو په موخه د مقابلې تر ټولو منفي ميکانيزمونو کې ښکيل شي.

ii. د مصونيت/ساتنې کلستر همکارانو د راپورونو پر بنسټ د داخلي بې ځايه شوو او بېرته ستانه شوو د هرو ۳ کورنيو له ډلې ۲ کورنی د COVID-19 قرنطين او د دندې فرصتونو نشتوالي له امله چې د COVID-19 د ګرځبنديز په خاطر رامنځته شوي و، اغېزمن شوي دي. وضعيت ته د ځواب او د خونديتوب خطرونو د کمښت په خاطر ټولټال 402,564 کورنی ځانګړې اړتياوې لري چې بايد ورسره نقدي مرستې وشي.

iii. وړاندوينه شوې چې په راتلونکي ژمي کې به؛ د COVID-19 قرنطين له امله فقر دوه برابره شي، جګړه او بې ځايه کيدنه به د هغو خلکو لپاره چې ځانګړې اړتياوې لري، د مقابلې منفي ميکانيزمونو د زياتوالي احتمال به د ګواښ لا ډېره سخته کړي.

iv. اوسنی قرنطين، ګرځبنديز او زياتيدونکی اقتصادي غربت به بالاخره د کورنيو لپاره د ماشوم (نجونو او هلکانو) خونديتوب ستونزو د زياتېدو سبب شي.

v. په ټول افغانستان کې ماشومان د اقتصادي ننګونو له امله په نامتناسبه توګه اغېزمن شوي دي، په داسې حال کې چې ماشومان او د دوي کورنی وار له مخه په اقتصادي لحاظ سخت ګير دي او اقتصادي سرچېنو (د بېلګې په توګه؛ مسلکي روزنو) ته ډېر کم لاسرسی لري، په کورنی او ټولنه کې به د مقابلې منفي ميکانيزمونو خطر لاپسې ډېر کړي.

vi. د هغو ماشومانو لپاره د خطر ډېروالی چې د ګرمو جامو او مناسبو بوټانو د نشتوالي له امله د ژمي اړوند ننګونې تجربه کوي.

**vii.** ترلې ښوونځي کولای شي چې د نجونو او هلکانو پروړاندې د ازار او زوروېنې خطر لوړ کړي او دا چاره به له ښوونکو څخه د ماشومانو د خونديتوب په موخه ځانګړو ځايونو ته د ماشومانو د خوندي مراجعې لاسرسی محدود کړي.

**د ژمي په دوران کې د خوب/غبرګون لومړيتوب لرونکي فعاليتونه**

i. د (PSN) يا د ځانګړو اړتياوو لرونکي هغو خلکو پېژندنه او د ګواښ تصديق چې ځانګړې اړتياوې لري.

ii. د (PSN) يا د ځانګړو اړتياوو لرونکي خلکو ته د ژمي په موسم کې تر ټولو بېړنيو اړتياوو پوره کولو په موخه د (يو ځل) نقدي مرستې برابرول.

iii. د اضافي مرستې په موخه د ځانګړو اړتياوو لرونکو خلکو قضيې نورو مرستندويه بنسټونو ته استول.

iv. د (ژمنيو اقلامو په ګډون) د عفت يا شخصي حريم د خونديتوب وسايلو د بستې وېشل.

v. د نقدي مرستې په موخه راجع کول.

vi. د سرپناه، څکلو پاکې اوبه او صفظ الصحې، او زده کړې په ګډون د نورو فعاليتونو له لارې د GBV يا د جنډر پر بنسټ تاوتريخوالي اصلي جريان معلومول.

vii. د ځانګړو اړتياوو لرونکو ماشومانو پېژندنه او هغوي ته د مخامخ ګواښ تصديق. د پېژندنې چاره به د هغو همکارانو يا همکارانو له لوري ترسره کېږي چې د قضيو مديريت کې ښکېل دي او کور په کور تولنيز – رواني مرستې وراندې کوي.

viii. هرې کورنۍ ته د دوي د هغه ماشومانو لپاره مناسبو ژمنيو بستو ورکول چې د معياري خوب/غبرګون بستې کې شامليږي (لاندې د معياري خوب/غبرګون کڅوړې وګورئ).

**د معياري خوب کڅوړې/بستې**

i. د بسته بندۍ، ليږد يا انتقال، ساتنې او بارګيرۍ (ښکته کلوو او پورته کولو) او نورو په ګډون د عفت يا خصوصي حريم د خونديتوب وسايلو يو سېټ په ۲۸ ډالره.

ii. د بسته بندۍ، ليږد يا انتقال، ساتنې او بارګيرۍ (ښکته کلوو او پورته کولو) او نورو په ګډون د ژمني وسايلو يو سېټ په ۴۵ ډالره.

## اوبه، فاضلاب او حفظ الصحه

| | |
|---|---|
| **ګټه اخيستونکي**<br>100,000 تنه | **اوسنۍ ظرفيت (امريکايي ډالر)**<br>0 ميليونه |
| **د مالي ملاتړ/فنډ اړتيا (امريکايي ډالر)**<br>3.9 ميليونه | **د مالي ملاتړ/فنډ تشه (امريکايي ډالر)**<br>3.9 ميليونه |

**کليدي سکټوري ستونزې او ګواښ**

i. د جګړې يا نابېره پېښو له امله بې ځايه کېدنه اغېزمن خلک د اوبو، فاضلاب او حفظ الصحې يا WASH اړوند ستونزو پروړاندې حساس ګرځوي. سربېره پردې سخت ژمی کی کولای شي دوي نور هم د اوبو، فاضلاب او صفح لاحصې يا WASH سره تړلو هغو ناروغيو له خطر سره هم مخامخ کړي چې په عامه روغتيا کې مهم دي (له اسهالات، ټايفايډ، کورلا او داسې نور).

ii. د اوبو، فاضلاب او حفظ الصحې یا WASH خدمتونو ته د سخت ژمي له امله د لاسرسي نه درلودل، د واورې شدیدو اورښتونو له امله د سړکونو ماتېدل او په فزیکي توګه نه لاسرسی، یا هم د سترو ناورینونو - قطع کېدنې امله په هغو اغېزمن شوو خلکو باندې د اوبو، فاضلاب او حفظ الصحې یا WASH خدمتونو قطع کېدل چې د جګړې، یا طبیعي ناورینونو له امله بې ځایه شوي وي، لکه؛ ژمی، زلزلې او داسې نور.

## د ژمي په دوران کې د څواب/غبرګون لومړیتوب لرونکي فعالیتونه

i. په هغه کلیدي سیمو کې چې احتمال لري د سترو ناورینونو اړوند بې ځایه کېدو له امله اغېزمن شي، وار له مخه د اوبو، فاضلاب او حفظ الصحې یا WASH ، د حفظ الصحې ، د اوبو ، او د حمام او تشناب د وسایلو ځای په ځای کول.

ii. په اغېزمنو خلکو د اوبو، فاضلاب او حفظ الصحې یا WASH ، د حفظ الصحې او د اوبو وسایلو ویش باید اړتیا ارزونې پر بنسټ ترسره شي.

iii. په بحراني یا سختو حالاتو کې د حفظ الصحې ترویج په دوامداره توګه د صابون په واسطه د لاسونو مناسب وینځلو باندې تمرکز کوي.

iv. د ژمي له امله او یا د ژمي په موسم کې د جګړې له امله بې ځایه شوي/اغېزمنو خلکو ته د اوبو برابرول.

v. اغېزمنو خلکو ته د بېړني حفظ الصحې تسهیلاتو برابرول.

## د معیاري ځواب/غبرګون کڅورې/بستې

i. د ټولو بې ځایه شوو او اغېزمن شوو خلکو نیمایي ته د اوبو، فاضلاب او حفظ الصحې یا WASH بشپړه کڅوره ( د اوبو رسولو سیستم/فاضلاب تسهیلاتو/ د اوبو، فاضلاب او حفظ الصحې یا WASH وسایل/د حفظ الصحې ترویج: ۳۹.۰۵ ډالره د هر کس لپاره).

ii. د اوبو، فاضلاب او حفظ الصحې یا WASH او غېر خوراکي توکو ویش، د ټولو هغه اغېزمن شوو او بې ځایه شوو خلکو لپاره چې په نښه شوي دي(د کورنۍ حفظ الصحې ، اوبو او داسې نور وسایل: ۶.۶ ډالره د هر کس لپاره).

iii. د حفظ الصحی ترویج د ټولو هغه اغېزمن شوو او بې ځایه شوو خلکو لپاره چې په نښه شوي دي(په بحراني یا سختو حالاتو کې په دوامداره توګه د صابون په واسطه په مناسبه توګه د لاسونو وینځلو په اړه د حفظ الصحې پیغامونه:۹.۹ ډالره د هر کس لپاره).

iv. د ټولو هغه اغېزمن شوو او بې ځایه شوو خلکو نیمایي لپاره چې په نښه شوي دي، د څکلو پاکو اوبو برابرول (لاسي بمبه/واټرپمپ او د کوهي/بور جوړونه/ترمیم، د اوبو انتقال د موټر له لارې (چېرته چې شدیده اړتیا وي)، د اوبو تصفیه: ۲۴.۷۵ ډالر د هر کس لپاره).

v. د ټولو هغه اغېزمن شوو او بې ځایه شوو خلکو نیمایي لپاره چې په نښه شوي دي، د فاضلاب یا فاضله تسهیلاتو برارول (د جنډر له وضعیت سره مناسب بېړني تشنابونه او حمامونه چې وکړای شي د اغېزمن شوو خلکو روغتیا او عفت یا آبرو خوندي کړي: ۲۰.۳۵ ډالره د هر کس لپاره).

vi. د اوبو، فاضلاب او حفظ الصحې یا WASH مرستې به د جنس په بڼه ترسره شي، خو که چېرې جنس نه پیدا کېده، بیا به نو د لښکت سند/لګښت په پام کې ونیول شي.

vii. په سړې هوا او د کنګل شرایطو لاندې به د اوبو، فاضلاب او حفظ الصحې یا WASH فعالیتونه د WASH کلستر د تخنیکي لارښود د لارښوونو سره سم ترسره کیږي.

## 4 د ژمنۍ ستراتیژۍ د پراختیا کړنلاره

د ژمني ځواب/غبرګون ستراتیژۍ ټوله رهبري او همغږي د افغانستان حکومت په غاړه ده. د داخلي بې ځایه شوو له ملي پالیسۍ سره په همغږۍ، د ژمنۍ ستراتیژۍ ټول فعالیتونه باید د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت/د کډوالو او راستنیدونکو چارو ریاست، د افغانستان د طبیعي پېښو سره د مبارزې ملي ادارې، اړونده وزارتونو او د بشري مرستو هغو بنسټونو سره په همغږۍ ترسره کړي چې په هېواد کې اغېزمن شوو خلکو ته بشري مرستې رسوي. طمع کیږي چې د موسمي ملاتړ لپاره د هغو خلکو د اړتیا وړ معلومات چې مرستې ته اړ وي، له مختلفو سرچینو څخه ترلاسه شي، ځني له دغو سرچینو څخه په لاندې توګه دي، مګر له دې سره نه محدودیږي:

i. د ټولنې په کچه د اړیکو مرکزونه.

ii. د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت، د افغانستان د طبیعي پېښو سره د مبارزې ملي اداره او د دوي ولایتي دفترونه.

iii. ولایتي او د ولسوالیو دولتي ادارې.

iv. امنیتي بنسټونه.

v. بشري او پرمختیایي بنسټونه.

vi. د داخلي – خپلمنځي اړیکو مرکز (AWAAZ) په ګډون په خپله داخلي بې ځایه شوي خلک.

vii. د کلسترونو ترمنځ د مالوماتو خپل منځي لېږد/مراجعات.

### 4.1 د همغږۍ پروسه

i. معلومات به د کډوالو او راستنیدونکو چارو ریاست/ریاستونو، د ملګرو ملتونو د بشري چارو د همغږۍ دفتر، د کلستر سیمه ییز مشران او د یادو سرچینو پر بنسټ د بشري مرستو همکارانو/همکارانو له لوري را ټولیږي. د همکارانو له لوري به د ویش تر پروګرام وړاندې د اړتیا ارزونه په ګډه ترسره کیږي. د ارزونې همغږي به په سیمه ییزه او محلي کچه د همغږۍ عملیاتي ټیمونو (OCT)، د بشري ځواب ویلو ټیم (HRT) د غونډو او سیمه ییز کلسترونو له لوري او د ملګرو ملتونو د بشري چارو د غمغږۍ دفتر سره په همغږۍ او د افغانستان دولت سره په ګډه/شریکه توګه ترسره کیږي.

ii. کلسترونه به د کډوالو او راستنیدونکو چارو له ریاست/ریاستونو او د افغانستان د طبیعي پېښو سره د مبارزې ملي ادارې سره مستقیماً اړیکه ولري (د دولت استازیتوب به کوي)، تر څو د ولایت په کچه په ټولیزه توګه د ځواب/غبرګون همغږي وکړي. د کډوالو او راستنیدونکو چارو ریاست به د ځواب/غبرګون او د چارو د تعقیب اړوند تازه معلومات د ولایت له والي او اړونده ادارو سره شریکوي، ترڅو له دې لارې د کار د جریان اړوند که کومې ننګونې یا اندېښنې وي، په ګوته شي. سیمه ییز کلستر به په منظم ډول د بشري مرستو همکاران د همغږۍ اوسني میکانیزمونو له لارې خبر ساتي.

iii. د ساحوي او مرکزي همغږۍ جوړښتونو ترمنځ به نږدې اړیکې د ګډو څو کلستریزه راپور ورکولو له لارې تر سره کیږي. دا را راپور ورکول به د نومبر څخه تر فیبرورۍ میاشتې پورې وي او همدارنګه د کلسترونو خپل منځي اړیکو له لارې (له سیمه ییز څخه ملي ته او برعکس) ترسره کیږي. په بدل کې به د کلسترونو د همغږۍ خپلمنځي ټیم هره میاشت خپل راپور HCT یا د همغږۍ مرکزي ټیم ته وړاندې کوي.

## 4.2 زماني جدولونه

د ژمي شديد حالات معمولاً د ۲۰۲۰ کال د ډيسمبر – د ۲۰۲۱ کال تر فيبروري پېښېږي. په ټول توان به هڅه وشي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې مرستې په شديد ژمي کې په خپل وخت ويشل شوې دي. ارزونې به د روان ۲۰۲۰ کال د اکتوبر په وروستيو کې پيل شي او په پايله کې به د مرستو ويش هم پيل شي.

## 4.3 په نښه کولو، ګواښ او د ګټه اخيستونکو نهايي کولو ستونزې

له دې امله چې په لوی شمېر کې کورنی نشي کولای د ژمي موسم لپاره بشپړ تياری وکړي، دا شمېره د سرچينو د کمښت له امله دوه برابره کېږي. بشري مرستندويه ادارو ته جدي سپارښتنه کېږي چې د ژمنيو مرستو ويش پرمهال خپل نمرې ورکولو سيستم کې د ګواښ معيارونو په نظر کې نيولو سره بايد د ګټه اخيستونکو انتخاب وکړي. د ګټه اخيستونکي انتخاب پرمهال بايد په ياد ولري چې ټاکل شوي معيارونه د تخنيکي کاري ګروپونو له لوري وړاندې شوي دي.  د ګواښ له مخې ټاکنه به د ټولنې د اړتيا پر بنسټ وي نه د داسې موقف پر بنسټ چې سوله ييز ګډ ژوند خوندي کړي.

د ترټولو زيات ګواښ سره مخامخ کورنيو سربېره به هغه خلکو ته لومړيتوب ورکول شي چې په لوړو ارتفاعاتو کې د اوسيدو، تودوخې او هوا له امله له بحراني اقليمي شرايطو سره مخامخ دي. د ګواښ معيارونو تطبيق به له مرستندويه ادارو سره مرسته وکړي تر څو د مرستې لپاره سم خلک انتخاب کړي او هغوی ته ددغو مرستو له ورکړې مخنيوی وکړي چې ګواښ سره مخامخ نه دي. دا معيارونه د ژونديو پارامترونو يوه مجموعه ده چې بايد په دوره يي توګه تر بيا کتنې لاندې ونيول شي، ترڅو د کارونې تطبيق يې په ګټوره توګه او د تکامل په حال کې وارزول شي او له جاري او راتلونکو ارزونو څخه د نوو/آپډيټ معلوماتو پربنسټ بايد تنظيم شي.

### 4.3.1 د مرستې لپاره د وګړو ټاکنه

اداري اړ دي چې د ټولنې په کچه ارزونې او د اړمنو خلکو د ټاکنې پروسه کې د ټولنې پراختيايي کونسل/شورا (CDCs)، کليواله شورا، د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت او د افغانستان طبيعي پېښو سره د مبارزې ملي ادارې ولايتي دفترونه، د بشري مرستو بنسټونه او پراختيايي ادارې، د ملګرو ملتونو د بشري چارو د همغږۍ اداره، ولايتي او د ولسوالۍ چارواکي او د بشري مرستو هغه ادارې چې په سيمه کې فعاليت لري، ښکېل کړي. که د کډوالو اوراستنېدونکو چارو رياست نشي کولای چې په يادو پروسو کې برخه واخلي، کېدای شي چې ارزونه يواځې د بشري مرستو له بنسټونو سره پرمخ لاړه شي او د کډوالو اوراستنېدونکو چارو رياست ته به له دې پلان څخه د برېښناليک له لارې خبر وکول شي. که شونې وي او د غېر ضروري ځنډ سبب نشي، غوره به وي ترڅو مېرمنې او ساتندويه کارکوونکي هم وهڅول شي چې د مشترکې ارزونې په ټيم کې ګډون وکړي. په ټولو مشترکو ارزونو کې د ګټه اخيستونکو ټاکنه به د ارزونې ټيم د جمعي پرېکړې پورې اړه لري.

د ګټه اخيستونکو ټولنيزه کمېټه به (د ټولنې، د ټولنې پراختيايي شورا/کونسل، داخلي بې ځايه شوو، کليواله شورا، او هغه بېرته راستنېدونکو استازې چې غواړي د مېرمنو مناسب ګډون يقيني کړي) د داسې ګواښ سره مخامخ کورنيو/د کورنی غړو ليست وړاندې کړي چې وکولای شي د انتخاب هغه معيارونه (ګواښ سره مخامخ داخلي بې ځايه شوي، بېرته راستانه شوي، کوربه ټولنې چې د خپلو اړتياوو پوره کولو په خاطر هيڅ ډول مرسته يا عايد ونلري) پوره کړي چې د انتخاب/ازمايښت کمېټې (د کډوالو او راستنېدونکو چارو رياست ولايتي دفترونه، د ملګرو ملتونو د بشري چارو د همغږۍ اداره، ولايتي او د ولسوالۍ چارواکي، د کلستر سيمه ييز او ولايتي ارتباطي استازي، د بشري مرستو ادارې) ټاکلي دي.

په ساحه کې د تائيد په موخه د ارزونې ګډ ټيم (JAT) ته د ګټه اخيستونکو نوملړ تر سپارلو وړاندې به د ګټه اخيستونکو د انتخاب کمېټه (BSC) لومړۍ د تکراري مواردو د پېژندلو په موخه نوملړ يا ليست ملاحظه کوي او بيا به يې د ارزونې ګډ ټيم (JAT) ته سپاري. د ارزونې ګډ ټيم (JAT) به د امکان په صورت کې د کلستر همکارانو څخه جوړ شوی وي چې ملګرې ملتونه (UN)، نړيوالې غېر دولتي موسسې (INGO's)، ملي غېر دولتي موسسې(NNGO's)، د کډوالو او راستنېدونکو چارو رياست، د ساحوي مديريت عملياتي ځواک ادارې (SMTF)). کېدای شي چې د ارزونې ګډ ټيم

(JAT) د ساحوي ارزونې پرمهال له ګواښ سره مخامخ هغه کورنۍ هم را ونغاړي چې د انتخاب معیارونه پوره کوي، مګر د خلکو د انتخاب کمېټې (BSC) ته نه وي معرفي شوي. توصیه کېږي چې د ارزونې ټیم ټول غړي باید د امکان تر حده د ارزونې په موخه یو شان وسایلو څخه کار واخلي.

### 4.3.2 په نښه کول

د ګواښ سره مخامخ وګړو ارزول شوي لیست په ګډون د ارزونې پایلې به د انتخاب کمېټې (BSC) ته د لومړیتوب ورکولو او د ګټه اخیستونکو د ټاکلو په موخه وړاندې شي، چې د انتخاب کمېټه (BSC) به د خپل کار لپاره د ګواښ سره مخامختیا له کړنلارې کار اخلي. پاېلې به د همغږۍ یوې غونډې له لارې له ټولو همکارانو سره شریک شي او یو همغږی غبرګون به د هغو تر ټولو ګواښ سره مخامخ کورنیو لپاره په لومړیتوب کې ونیول شي چې په لویه کچه د شدید ژمي له امله اغېزمن دي. د ګټه اخیستونکي د انتخاب پروسې کار د ځواب/یا غبرګون ځنډول نه دي، بلکې ددې پروسې موخه داده چې رونتیا یقیني شي  او تر ټولو اړمنو خلکو ته په مساوي توګه رسیدګي وشي. توقع کېږي چې ژمنۍ مرستې به تر ارزونې وروسته او له ټولنې یا همکارانو څخه د رسید ترلاسه کېدو سره سم د دوو اونیو په موده دې ترسره شي.

### 4.3.3 ځواب/ د کمک پروسه

ددې لپاره چې ډاډ ترلاسه شي ترڅو تائید شوي او ارزول شوي خلک په ممکنه لږ وخت کې مرسته ترلاسه کوي، د امکان په صورت کې باید د مرستې ویش له ارزونې سره هم مهاله ترسره شي. که د لاسرسي محدودیتونو له امله یو همکار بنسټ یو تائید بشپړ، ارزونه یې ترسره کړې وي او د پېژندل شوو اړتیاوو د پوره کولو وړتیا ولري، کولای شي چې په بېړنۍ توګه غبرګون/ځواب ووایي، ترڅو اغېزمن شوي خلک په ممکنه لنډه موده او په چټکۍ مرسته ترلاسه کړي.

که چېرې د ډېرو فعالانو له لوري د یو ښه تنظیم/همغږی شوي ځواب اړتیا وي، سیمه ییز کلستر به د بشري مرستو له ادارو او د کېوالو او ستنېدونکو چارو ریاست سره د ارزونې موندنې شریکوي او له اړوند کلسترونو سره به په ګډه کار کوي ترڅو د بېړنۍ اړتیا پر بنسټ د مناسب ځواب/غبرګون اسانتیا رامنځته کړي. د ملګرو ملتونو د بشري چارو د همغږۍ اداره (OCHA)، سیمه ییز کلسترونه او د کېوالو او ستنېدونکو چارو ریاست به له نورو برخوالو سره کار کوي تر څو ډاډ ترلاسه شي چې ځواب یا مرستې د اغېزمن شویو خلکو اړتیاوې پوره کوي او دا چې د مرستو لېږد خوندي او په فرهنګي لحاظ مناسب ترسره کېږي، او د وېش محلونو خوندیتوب هم په دې کې شاملېږي. د وېش محلونه باید تل له فوځي/امنیتي پوستو څخه لرې وي، د انساني کرامت د خوندیتووب او د روغتیا ساتنې په خاطر باید مناسبو تشنابونه او سیوري لرونکي وي. د وېش محلونه باید د امکان تر حده اغېزمن شوي نفوسو ته نږدې وي. د لومړیتوب ورکړای شوو ګواښ سره مخامخ ګروپونو (لکه هغه کورنۍ چې مشري یې د مېرمنو په غاړه وي، ماشومان، امیندواري او شېدې ورکوونکې مېرمنې، د معلولیت لرونکي افراد او سپین روږي) د تنظیم په موخه باید ځانګړې کرښې یا قطارونه رامنځته شي. د انتظار موده باید حد اقل (د امکان تر حده کم) په نظر کې ونیول شي. د آګاهانه رضایت ترلاسه کولو په ګډون باید د انځورونو اخیستلو او ویډیو کولو، او همدارنګه د حکومتي او بشري مرستندویه فعالانو له لوري د دا ډول موادو د اخېستلو او خپرولو وړاندې باید ټول اخلاقي معیارونه په پام کې ونیول شي.

د محرمیت، رضایت، غوري ګټې، قصد او مالوماتو ته لاسرسي او خوندیتوب له اصولو سره سم د معلوماتو د شریکولو قراردودونه باید په هغو سیمو کې ترسره شي چې هلته ډېره اړتیا موجوده وي او په هغه ځای کې چې توقع کېږي دوه او یا تر دوو زیات همکاران به مرسته ترسره کړي. د ارزونې پرمهال به هغو سیمو ته لومړیتوب ورکول شي چې د 2020 کال تر اکتوبر میاشتې پورې د شدیدې هوا له سخت وضعیت سره مخامخ وي.

### 4.4 ځارنه

ددې لپاره چې په نښه شوو وګړو ته د مرستو رسېدو په اړه ډاډ ترلاسه شي، طمع کېږي چې انفرادي اداري  له سیمې څخه په وخت ځارنه ترسره کړي. د داخلي – خپلمنځي اړیکو مرکز (AWAAZ)  په ګډون خبري اژانسونه باید له اغېزمن شوو وګړو سره د اړیکو یو یا ګڼ چېنلونه رامنځته کړي.

د نظر اخېستلو او شکایتونو صندوق رامنځته کولو سرېبره، د سروې، د وېش په ساحه کې د یو میز له لارې، د ټولنیزو/حواله رسنیو له لارې، د فوکس ګروپ بحثونو، کلیدي خبروونکو مرکو او نورو وسیلو پرمټ هم کولای شي چې د ویش له ساحې دقیق او په خپل وخت ځارنه ترسره کړي. طمع کیږي چې ټول خبري آژانسونه د لاندې مواردو په پام کې نیولو سره تر ویش وړاندې ځارنه (PDM) ترسره کړي: له ټولو اژانسونو څخه غوښتنه کیږي چې په کلسټر کې د منل شوې نمونې څخه په استفادې یا د خپل اژانس په وسیله کې د کلسټر اړوند ځانګړې پوښتنې ځای په کړي، تر څو وکولای شي د اغېز کچه مالومه کړي، ترسره شوې تجربې او زده شوي درسونه راټول کړي، اغېزمن شوو وګړو ته د حساب ورکړې ملاتړ وکړي او د 2021 کال د اپریل په وروستیو کې د راتلونکې برنامه سازۍ لپاره لا ډېر معلومات وړاندې کړي.

## 4.5 راپور ورکول

د همغږۍ ساحوي او ملي/مرکزي جوړښتونو ترمنځ نږدې اړیکې به د څلورو میاشتو لپاره (له نومبر 2020 څخه تر فیبروري 2021 پورې) د ګډ څو کلسټریز راپور ورکولو له لارې رامنځته شي. همدارنګه، د کلسترونو د داخلي اړیکو له لارې (له سیمه ییز څخه مرکزي/ملي او برعکس له ملي/مرکزي څخه سیمه ییز ته) به نږدې همغږي رامنځته شي. همدارنګه د ملګرو ملتونو د بشري چارو د همغږۍ ادارې د اسانتیاوو څخه په استفادې هم دا چاره مخته لاړه شي. د کلسترونو د همغږۍ خپلمنځې تیم (ICCT) به په خپل وار په هرو دوو اونیو کې یو ځل سیمه ییز د همغږۍ تیم HCT او مرکزي د همغږۍ تیم HC ته راپور ورکوي. ټول همکاران به د راپور ورکولو مرکز له لارې د خپلو ژمني غبرګون فعالیتونو راپور شریکوي. د معلوماتو د تنظیم او د ماین پاکۍ پروګرام به د راپور ورکولو مرکز کې د اتصال او تعامل داسې یو انټرفیس جوړوي چې د نورو سکتورونو په ګډون ټول همکاران وکولای شي د خپل فعالیتونو او د ژمي موسم لپاره د ترسره شوې مرستې په اړه هره میاشت تازه معلومات شریک کړي. دا چاره به د غبرګون له ارزونې او د ستراتیژۍ پروړاندې د بودیجې له ټاکلو سره ډېره مرسته وکړي.

## 5 نتیجه ګیري / پایله

دا ستراتیژي د ژمي په موسم کې د کلسترونو ترمنځ مرستندویه فعالیتونه خلاصه کوي او موخه یې د ژوند ژغورونکو مرستو له لارې د ګواښ سره مخامخ وګړو د مړینې مخنیوی دی. ددې لپاره چې اړونده مرستې منسجمې تر سره شي، د بودیجې چټکه پېژندنه به همکارانو او اړوند ذیدخلو وزارتونو ته اجازه ورکړي چې د اغېزمن شوو کورنیو د نظر وړ اړتیاوې پوره کړي او د تنفسي ناروغیو او هایپوترمیا خپرېدو، په روغتون کې د بستر کېدو او مړینې کچه ټیټه کړي. همدارنګه، د محافظت په ګډون د مبارزې منفي میکانیزمونو سره تړلې ستونزې - لکه کارګر ماشومان، خیرات ټولول، د ماشومانو خرڅلاو او داسې نور. ژمنۍ مرستې باید د یخنۍ له موسم وړاندې وویشل شي، ترڅو په نښه شوي خلک وکولای شي چې د ژمي لپاره پلانګذاري وکړي او زېرمې برابرې کړي.

دا ستراتیژي د کلسټریزو میکانیزمونو ترمنځ د همغږۍ رامنځته کولو لپاره پر قوي ژمنتیا ټینګار کوي، ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې ګډې مرستې له اغېزمن شویو وګړو سره مرسته کوي چې خپلې اساسي ستونزې او په ژمي موسم پورې تړلي ګواښ یا اړتیاوې په ګوته کړي.

سربېره پردې، دا ستراتیژي د ډونرانو/مالي ملاتړ کوونکو، په مرکزي او ولایتي کچه دولتي چارواکو او بېلابېلو اړونده وزارتونو ترمنځ، چې د ځواب ورکونې په تطبیق کې ښکېل دي، د همغږۍ او مشورې غوښتنه کوي ترڅو وکولای شي چې د ستراتیژیکو لومړیتوبونو د تعریف سره سم، د اغېزناکه مالي ملاتړ/فنډ د تخصیص داسې برنامې جوړې کړي چې وکولای شي د ژمي مرحله تر اغېزې لاندې راولي.

دا ستراتیژي په بنسټیزه توګه بېړني بشري هڅو باندې تمرکز کوي او د پراختیا برخې فعالان کولای شي د جوړښت/پراختیا تر یو چارچوب لاندې مرسته وکړي ترڅو هبواد یې د ژمي موسم پروړاندې مقاومت وکړي.

## لنډیزونه

1. NFI غیر خوراکي توکي
2. WASH د څکلو پاکې اوبه، فاضلاب او صفظ الصحه
3. ICCT د کلسترونو د خپل منځي همغږی تیم
4. MORR د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت
5. ANDMA د افغانستان د طبیعي پېښو سره د مبارزې ملي اداره
6. OCHA د ملګرو ملتونو د بشري چارو همغږی اداره
7. IPC د ادغام مرحلې طبقه بندي
8. ESNFI بیړنی سرپناه او غیر خوراکي توکي
9. IDPs داخلي بې ځایه شوي خلک
10. COVID-19 د کرونا وایروس ناروغي 2019
11. IDP داخلي بې ځایه شوي خلک
12. EiEWG په بیړنیو حالاتو کې د زده کړې کاري ګروپونه
13. CBE د ورتیا پر بنسټ زده کړه
14. WFP د ملګرو ملتونو د غذایي موادو پروګرام
15. HAP کورني هوا ککړتیا
16. WHO نړیوال روغتیایي سازمان
17. FSAC غذایي خوندیتوب او د کرهنې کلستر
18. MAM عادي خوارځواکي
19. SAM جدي خوارځواکي
20. ES بیړنی سرپناه
21. CVA نقدي او د سند په بنه مرستې
22. CfR د کور د کرائې لپاره نقدي مرسته
23. FSPs د مالي خدمتونو وړاندې کوونکي
24. RCCE د خطر پېژندنه او ټولنیز ګډون
25. BPHS د روغتیایي خدمتونو لومړنی کڅورې
26. PLWs شیدې ورکوونکې او امېندواره مېرمنې
27. IYCF نوي زېږېدلي او شیدې خوړونکي ماشومان
28. RUSF خوراک ته تیار مکمل/بشپړ خواړه
29. HRP د بشري مرستو د غبرګون پلانګذاري

30. MoPH د عامې روغتيا وزارت
31. GBV د جنډر په اساس تاوتريخوالی
32. PSN د ځانګړو اړتياوو لرونکي خلک
33. PSS ټولنيز – رواني مرسته
34. CVWG د نقدي سند - کاري ګروپونه
35. DoRRs د کډوالو او راستنيدونکو چارو رياست
36. TWIG تخنيکي کاري ګروپونه
37. IMMAP د معلوماتو تنظيم او د ماين پاکی پروګرام
38. JAT د ارزونې ګډ تيم
39. BSC د ګټه اخيستونکو د انتخاب کمېټه